سپېڅلي کردارونه

# د مشهور او زوړ خدائي خدمتګار غلام جېلاني صاحب سره انټرويو

اداره



مشهور خدائي خدمتګار غلام جيلاني د مردان صدي خېل دے د پلار نوم ئې رحمان ګل دے. د دوي د وېنا مطابق ئې د پېدائش کال ۱۹۲۰ دے. ټول عمر ئې په خدائي خدمتګار تحريک کښې تېر کړے دے. د ازادۍ په دې تحريک کښې جېل ته هم تللے دے. ((پښتون)) د هغوي سره يو انټرويو کړې ده هغه خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوي.

پښتون : تاسو په خدائي خدمتګار تحريک کښې کله شامل شوي وئ؟

جيلاني : زما په خدائي خدمتګار تحريک کښې د شاملېدو ورځ ډېره تاريخي ده ځکه چې دا هغه ورځ وه په کومه ورځ چې د مردان امير محمد خان په دې تحريک کښې شامل شوے وۀ. په دغه ورځ ډېره عظيم الشانه جلسه شوې وه. باچا خان راغلے وۀ او ډېرو زياتو خلقو په دې جلسه کښې شرکت کړے وۀ. نو ما هم پکښې شموليت اختيار کړو او د زړۀ نه مې د باچا خان د عدم تشدد نظريه قبوله کړه.

پښتون : تاسو په دې تحريک کښې ډېر زيات وخت تېر کړے دے، د باچا خان سره ګرځېدلي يئ، جلسې او جلوسونه مو کړي دي کۀ څۀ خاص واقعه تاسو ته ياده وي نو هغه موږ ته بيان کړئ.

جيلاني : داسې واقعې خو ډېرې زياتې شوې دي او زۀ د باچا خان سره ډېر زيات ګرځېدلے يم. د ډېرو کلو دورې مې ورسره کړې دي. لکه امازو ګړۍ، بخشالے، ګجرات، ګدر، طورو دې ټولو کلو کښې مې د هغوي سره دورې کړې دي. خو دا وخت زما يادداشت زما سره ډېره ملګرتيا نۀ کوي. د ډېرو ملګرو نومونه هم راته نۀ رايادېږي.

پښتون : تاسو د ازادۍ په دې تحريک کښې چرې جېل ته تللے وئ؟

جېلاني : د ون يونټ خلاف چې کله باچا خان مېدان ته راووتو او د هغې مخالفت ئې شروع کړو نو موږ ټول ورسره وو. د هوتي د مهردل خان،

سالار حنیف الله، شهزاد میر او د نورو ډېرو ملګرو سره زهٔ په دغه ورځو کښې ګرفتار شوم او د پېښور جېل ته ولېږلے شوم. وروستو ئې بیا راته د درې کاله قېد سزا راکړه او هرې پور جېل ته ئې بوتلم، دغه وخت باچا خان هم هرې پور کښې وهٔ. نور هم ډېر خدائي خدمتګار راسره وو خو دا وخت ماته د هغوي نومونه یاد نهٔ دي.

پښتون : باچا خان به د خپلو خدائي خدمتګارو په جېل کښې هم ډېر خیال ساتلو، تاسو په دې حقله څهٔ وایئ؟

جیلاني : بالکل، باچا خان (الله پاک دې ورله جنتونه ورکړي) به د خپلو ملګرو سره ډېره مینه کوله او د هغوي به ئې هر قسم خیال ساتلو. په کومه ورځ چې زما رهائي وه نو باچا خان د خپلې احاطې کوراتېن نه راغے او تر ډېوډۍ پورې راسره په جلب کښې لاړو. نور خدائي خدمتګار هم ورسره وو. قېدیانو داسې وګڼله چې ګني باچا خان رها شو. د راتلو په وخت ئې ماته ووې چې کور ته ورسې نو خپلو خپلوانو ته ووایه چې ما قتل نهٔ وهٔ کړے، غلا مې نهٔ وه کړې، هیڅ اخلاقي جرم مې نهٔ وهٔ کړے ما خو ستاسو د حقونو دپاره اواز پورته کړے وهٔ، د ون یونټ مخالفت مې کړے وهٔ د هغې په وجه جېل ته تللے وم. دا دې واپس تاسو له راغلم. ډېرې خبرې ئې راته کړې وې چې دا وخت ماته یادې نهٔ دي. زهٔ چې څنګه کور ته راغلم نو د ټولو نه اول مې په ولاړه ولاړه د باچا خان هغه ټولې خبرې خپلو خپلوانو یارانو دوستانو ته وکړې او ورته مې ووې چې دا د باچا خان پېغام دے، د هغې نه پس کښېناستم.

پښتون : تاسو چرته په جلسه کښې تقریر کړے وهٔ یا مو څهٔ شعرونه وغېره وئیلي وو کهٔ نهٔ؟

جیلاني : هسې خو به زهٔ هرې جلسې له تلم خو تقریر مې چرته نهٔ وهٔ کړے. یو وخت وهٔ چې په جلسو جلوسونو پابندي وه. په چارسده کښې یوه مشاعره وه باچا خان هم پکښې موجود وهٔ هغې له تللے وم. عبدالمالک فدا ډېر ښهٔ شاعر وهٔ هغه هم وهٔ. د هغې مشاعرې طرح دا وه:

سرهٔ ګلونه وینم په دې جاړو ځنګلونو کښې.

زهٔ هغه وخت د باچا خان سره په سټېج ناست وم، ما هلته دا شعرونه وئیلي وو:

دننه کله تښتېدونکے د پلنګ وم
په سن تیس کښې لا په خپلو وینو رنګ وم
په انګار د ازادۍ کهٔ لوغړن شم
تلم په پنجو بې وزرو چې پتنګ وم
شاه ځلمو غوندې هزار مېدانه مخکښې
د ګولو نه کله زهٔ تللے په څنګ وم
لاس تړلې مې قانون د باچا خان دي
د لیندې ختلے غشے د اورنګ وم

نور هم ډېر شعرونه مې اورولي وو خو اوس رانه هېر دي.

پښتون : تاسو دومره موده سیاست کړے دے، انتخاباتو کښې مو چرته د ټکټ غوښتنه کړې وه او کهٔ نهٔ؟

جیلاني : کال خو راته یاد نهٔ دے خو د بلدیاتي الیکشن دپاره ما له پارټۍ ټکټ راکړے وهٔ. خو ما ورته ووې چې زما کشر ورور محمد یوسف ښهٔ دے نو هغهٔ له ئې ورکړو او هغهٔ د نواب صاحب په سرې الیکشن بائلو. یو ځل باچا خان زما سفارش کړے وهٔ چې دهٔ له د صوبائي اسمبلۍ ټکټ ورکړئ خو ما ورته ووې چې زما ډېر تعلیم نشته او دې ورور مې بي اې کړې ده نو دهٔ له ئې ورکړئ.

پښتـون : تاسو کار روزګار څۀ کولو؟
جیلانـــي : زۀ هومیوپیتهک پریکټیشنر وم. د هومیو پیتهک امتحان مې پاس کړے وۀ. مردان کښې د دې ګولډن سنیما سره خوا کښې مې دکان وۀ.
پښتـون : د خپل سیاسي ژوند یوه اهمه واقعه راته بیان کړئ.
جیلانـي : باچا خان مرحوم چې د وړومبي مارشل لا خلاف قدم پورته کولو نو هغه وخت په مردان کښې لوئے لوئے خانان وو او خدائي خدمتګار هم وو خو باچا خان ماته ټیلي فون وکړو چې زۀ مردان کښې یو جلوس ویستل غواړم تۀ د هغې دپاره انتظامات وکړه. ما سائیکل واخست او پورې هوتي ته لاړم، هلته یو داروګر وۀ هغۀ به په داروګر ټوپک ډزې کولې هغۀ ته مې ووې چې دغسې پروګرام دے، هغۀ راته وې ډزې خو بندې دي، مارشل لا لګېدلې ده. ما ورته ووې ما د هغې اجازت اخستے دے. باچا خان ماته دا هم وئیلي وو چې په دې موقعه به یوه سره جنډه جوړوې او عبدالمالک فدا له به ئې ورکوې. لنډه دا چې باچا خان راغے. باچا خـان مخکښـې روان وۀ، مـونږ ورپسـې وو، ډول غږېدو او داروګر ډزې کولې. ځائے په ځائے خلق ناست وو او مونږ سره به روانېدل. د بهادر خېلو جومات تـه ورسېدو. دغې جومات کښې مولانا عبدالعزیز صاحب خطیب وۀ او پـه دغـه موقعه موجود وۀ. د هغۀ په جومات کښې یوه لویه جلسه وشوه.
پښتـــون : د خان عبدالولي خان سره ستاسو ملګرتیا هم دغسې جاري وه؟
جیلانـي : هو بالکل. ولي خان څو څو ځله زما دکان ته راغلے وۀ. د باړې چم یو خدائي خدمتګار وۀ دلبر نوم ئې وۀ، هغه بیمار وۀ ماته ئې ووې چې کله زۀ مړ شم نو خان عبدالولي خان به خامخا خبروې. نو چې هغه وفات شو نو ما ولي خان له اطلاع ورکړه. هغۀ ماته ووې چې زۀ یواځې نه بلکې د نورو ډېرو ملګرو سره درروان یم. نبغ زما دکان ته راغے او بیا ټول د هغۀ جنازې له لاړو. د هغې په خلقو ډېر ښۀ اثر وشو، خوشحاله شو چې ګوره ولي خان سره د ملګرو راغے. داسې نور هم ډېر ځله راغلے وۀ خو زما یادداشت کار پرېښے دے. خبرې رانه هېرېږي.
پښتـــون : باچا خان یو خدائي خدمتګار وۀ هغوي د خلقو لارې کوڅې او حجرې جارو کړې وې تاسو چرته داسې کړي وو؟
جیلانـي : ولې نۀ، چې باچا خان به یو کار کولو نو هغه به مونږ څنګه نۀ کولو. مونږ د خلقو ډېر خدمتونه کړي دي. دغه د باچا خان مشن وۀ او په ډېره ښه طریقه ئې سر ته رسولے وۀ.
پښتـون : تاسو د باچا خان خدائي خدمتګاري هم لیدلې ده او د ولي خان سیاست هم، په دوي دواړو کښې تاسو څۀ فرق محسوس کړے وۀ؟
جیلانـي : باچا خان د عدم تشدد کلک ملګرے وۀ او چې څۀ به ئې وئیل په هغې به ئې عمل کولو او نور خلق به ئې هم عدم تشدد طرف ته رابلل. باچا خان د خان عبدالولي خان په شان مهمان نواز نۀ وۀ بلکې اعتدال به ئې خوښوو او د اسراف ملګرے نۀ ؤ ولي خان په مېلمستیا کښې ډېر تکړه وۀ او په هر قسمه مېلمه به هغۀ ښه پېرزوئنه کوله.

پښتـون : د باچا خان متعلق خلق وائي چې هغه شوم وۀ، او ستاسو د خبرې نه هم ښکاره شوه چې د ولي خان هومره مېلمه نواز نۀ وۀ. دا صحيح ده؟

جيلانـي : باچا خان شوم نۀ وۀ بلکې هغۀ په خپله هم اسراف نۀ کولو او نورو خلقو او ملګرو ته به ئې هم وئيل چې اسراف مۀ کوئ. په غلطو رسمونو رواجونو به پښتنو ډېرې پېسې خرچ کولې، باچا خان به د دې نه خلق منع کول. هغۀ به همېشه وئيل چې د خپل څادر سره پښې غزوئ. کۀ چرته به د روټۍ پروګرام شوے وۀ او په دسترخوان به ډېر خوراکونه موجود وو نو باچا خان به پکښې ساګ او شوملې قبلولې. خلقو به دا وئيل چې بخيل دے خو هغه بخيل نۀ وۀ.

پښتـون : د خدائي خدمتګارو سره به جېل کښې د باچا خان سلوک څۀ رنګه وۀ؟

جيلانـي : باچا خان به د خپلو ملګرو ډېر خيال ساتلو. يوه ورځ ئې زۀ خپل بارک ته بوتلم او بلا مېوې چې ورله خلقو راوړې وې هغه ئې راوړې او ما له ئې په جولۍ کښې واچولې چې دا يوسه. ما هغه مېوې راوړې او د خپل بارک په ټولو کسانو مې تقسيم کړې. بيا مې باچا خان ته ووې چې هغه مېوه مې په خلقو ووېشله نو ډېر خوشحاله شو.

پښتـون : تاسو د پېرنګيانو دور هم ليدلے وۀ او د هغوي ظلمونه مو هم برداشت کړي وو او بيا چې کله پاکستان جوړ شو نو بيا هم تاسو همېشه زېر عتاب وئ. دا راته ووايئ چې پېرنګي زيات ظلم کړے وۀ کۀ دې نورو؟

جيلانـي : پېرنګي په حقيقت کښې مونږ ډېر په عذاب کړي او تنګ کړي وو. تر دې چې په ميروېس ډېرۍ کښې ئې باچا خان له پُښتۍ ماتې کړې وې. زۀ خپله په دغه موقعه موجود وم. د پېرنګي د ظلم هيڅ حساب نۀ وۀ خو دا وروستو چې قيوم خان په بابړه کښې کوم کار وکړو نو د دې مثال نشته. بلکې زۀ خو دا وايم چې د پېرنګي د هغو ټولو ظلمونو نه دا ظلم ډېر وۀ. پېرنګيان خو پردي خلق وو او مونږ ترې ازادي غوښتله خو دا مو د خپل وطن خلق وو، دوي مونږ سره د هغوي نه زيات خراب سلوک کړے وۀ.

پښتـون : تېرو ورځو کښې د اختر په دوېمه ورځ د باچا خان په کور کښې چې د عدم تشدد د فلسفې د باني کور دے هلته په اسفنديار ولي خان يوه حمله شوې وه چې پکښې بې ګناه خلق شهيدان شوي وو. په دې حقله تاسو څۀ وايئ؟

جيلانـــي : دا يوه داسې پېښه ده چې هيڅ يو پښتون ئې برداشت کولے نۀ شي. چا هم چې دا کار کړے دے ډېره غلطه ئې کړې ده. دغه يوائې د باچا خان نه بلکې د ټولو پښتنو د مشرۍ کور دے. زۀ يو ډېر ادنې خدائي خدمتګار يم خو دې واقعې چې ماته څومره درد او تکليف رسولے دے د هغې بيان نۀ شم کولے.

پښتـــون : ستاسو ډېره مننه چې د بيمارۍ په حالت کښې مو مونږ له وخت راکړو او د ډېر تکليف باوجود مو زمونږ سره خبرې وکړې.

جيلانـي : کاش چې زۀ لږ ښۀ وې. دا وخت زۀ ډېر بيمار يم، حافظه مې سم کار نۀ کوي، خبرې او نومونه رانه هېرېږي. ستاسو ډېره مهرباني چې زۀ مو ياد کړم.

پښتـون : د پښتنو دپاره څۀ پېغام ورکوئ؟

جیلانـي : د پښـتنو دپاره خو زما دا پېغام دے چې دوي دې د باچا خان او ولي خان دا مشـن مخ په وړاندې بوځي، خپلو کښې دې ورورولي او اتحاد پېدا کړي.